مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڕ ۲۰۲۶/۰۱/۰۴

# د یهودو عادلانه جګړې
## (یوسل او اتلسمه برخه)

**امریکایي سیاستوال له اسراییلو د خپل سر او مال په بیه دفاع کوي. (۱)**

**ولې امریکایان اړ دي چې له دومره لویو امنیتي، سیاسي او مالي زیانونو سره سره، بیا هم له اسراییلي صهیونستانو څخه ملاتړ وکړي؟**

دا داسې مهمه پوښتنه ده چې باید په غور سره وڅېړل شي او ریښتیني ځوابونه ورته وویل شي څو نړیوال په دې پوه شي چې هغه کوم عوامل دي چې امریکایان په پټو سترګو له اسراییلي صهیونستانو څخه د خپل سر او مال په بیه ملاتړ کوي.

له اسراییلو څخه د امریکایانو ملاتړ څو اړخیز عوامل لري چې د ټولو عواملو عاملین امریکا مېشتي یهودان او عیسوي پروتستان دي. امریکایي یهودان او د عیسوي پروتسانو اړوند ځینې مهمې مذهبي ډلې، امریکایي چارواکي له بېلابېلو لارو د اسراییلو ملاتړ ته اړ باسي (چې په خپل وار به پرې وغږېږو) خو لومړی په هغه مذهبي تلقین رڼا اچوو چې په امریکا کې د عیسویانو د پروتست مذهب، په ځانګړي توګه د (اونجلیکال، یا انجیلي پروتستانیانو، مذهبي فرقې) په اړه خبرې کوو.

**د عیسویت د پروتست مذهب او اړونده مذهبي فرقې:**

عیسویانو هغه مهال په اروپا کې له یهودو ملاتړ پیل کړ چې په شپاړسمه زیږدیزه پیړۍ کې د یو تن عیسوي کشیش، جرمنتوکمه **(مارتین لوتر)** لخوا د عیسوي دین د کاتولیک مذهب پر وړاندې یو اصلاحي حرکت پیل شو چې په پای کې دا حرکت د پروتست په مذهب بدل شو.

د پروتستانو د مذهب لارویان په امریکا او اروپا کې له اسراییلو او اسراییلي صهیونستانو سره ډېره خواخوږي او زړهسوای لري، اړینه ده چې د نوموړي مذهب په رامنځ ته کېدو او څرنګوالي باندې لنډ مالومات وړاندې شي، تر څو پوه شو چې څرنګه یهودانو وکړای شول، د عیسویت دین لارویان چې د یهودانو دښمنان وو، یوه برخه د ځان په پلوی او خپل ملاتړ ته راواړوي:

د پروتستانو مذهب چې د عیسویت یو اصلاح کوونکی غورځنګ ؤ، د مسیحیت له درو بنسټیزو څانګو څخه یو دی چې رېښه یې شپاړسمې زیږدیزې پیړۍ ته رسېږي. د پروتستانو د مذهب لارویان نه د روم د کاتولیکي کلیسا منونکي دي او نه هم د ختیځې ارتودوکس کلیسا منوونکي دي.

هغه مهال چې د پروتست مذهب لا نه ؤ رامنځ ته شوی، **د مسیحي کشیشانو (دیني پوهانو) لخوا دین او دیني کتابونه (انجیلونه) انحصار شوي وو چې پرته له دیني عالمانو بل چا ته اجازه نه وه چې انجیل ولولي او یا یې وژباړي، سربېره پر دې، کشیشانو خلکو ته د پیسو په بدل کې د ګناهونو د بښلو او جنت ته د تللو سندونه (لیکونه) ورکول او**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**نورې خرافاتي کړنې يې هم ترسره کولې.** هغه وو چې د دغو کشيشانو پر وړاندې د کليسا يو کشيش، جرمن‌توکمه مارتين لوتر پورته شو او په ۹۵ مادو کې يې يوه اعلاميه وليکله او د ۱۵۱۷ز. کال د اکتوبر په ۳۱مه نېټه يې د جرمني د (ويتنبرګ) په کليسا کې ځوړند کړه، په اعلاميه کې د کاتوليکې کليسا پر کشيشانو سختې نيوکې شوې وې چې ځو مادې يې د بېلګې په توګه وړاندې کوو:

د اعلاميې په پنځمه ماده کې ويل شوي وو چې «**پاپ نه دا واک لري او نه دا اراده چې [خلکو ته د ګناهونو] سزاګانې وبخښي**، مګر هغه سزاګانې چې په خپله او يا د کليسا د قانون پر بنسټ يې ټاکلې وي.

۲۱. په دې بنسټ، ټول هغه کسان چې د وعظ پر مهال د بښن‌ليکونو په اړه وايي چې **انسان کولای شي د پاپ د بښن‌ليک په وسيله له هر ډول سزا څخه ژغورل کيږي په خطا کې دي.**

۴۵. مسيحيانو ته بايد دا وښودل شي چې څوک يو اړ کس ويني او په بې‌پروايي ترې تېر شي، که هغه کس د بښن‌ليک لپاره پيسې هم ورکړې وي، د پاپ له بخښنې څخه هيڅ ګټه نه شي اخيستلی، **بلکې يوازې د خدای له غضب سره مخ کيږي.**

۷۵. دا يو احمقانه خيال دی چې د پاپ بښن‌ليکونه دې دومره ځواک ولري چې انسان ته بښنه وکړي، **تر دې چې که هغه ناممکن کار هم کړی وي او د خدای پر مور [مريم] يې تېری هم کړی وي.**[1]

د لوتر اعلاميه د دې لامل شوه چې په جرمني کې د کاتوليکې کليسا لوړپوړي چارواکي سختې نيوکې وکړي، تر دې چې د مونيخ مشر اسقف د اعلاميې متن او د لوتر خلاف له يو رسمي شکايت‌ليک سره يو ځای د روم د کليسا لوی مشر پاپ ته ولېږي او له هغوی مرسته وغواړي.
**د روم د کاتوليکې کليسا پاپ، پر لوتر باندې د کفر ټاپه ووهله، فرمان يې ورکړ چې لوتر کافر دی. او هغه له کليسا وشړل شو. لوتر هم په داګه د پاپ فرمان وسوځاوه.**[2]

لوتر د پاپ له وېرې څه موده پټ اوسېدل غوره کړل، دا مهال لوتر ته دا موکه په لاس ورغله چې سپېڅلی کتاب (انجيل) جرمني ژبې ته وژباړي. دا ژباړه يو ډېر زړور او تاريخي ګام ؤ[3] ځکه له دې لارې يې د کليسا هغه انحصاري واک ونګاوه چې د انجيل تفسير يې يوازې د کشيشانو ځانګړی حق باله، څو عام خلک تل په ناپوهۍ او تياره کې وساتل شي.

له بلې خوا مارتين لوتر له يهودانو سره ډېره خواخوږي ښودله چې په تړاو يې يو کتاب‌ګوټی **(عيسی مسيح يو يهودی زيږېدلی ؤ)** وليکه. نوموړی کتاب‌ګوټی چې له نومه يې څرګندېږي لوتر، عيسی پيغمبر او د هغه مور مريم يهودان او د ابراهيم او داؤد له نسله بللي او نورې ډېرې سختې خبرې د مسيحيانو په ترټنه او د يهودو په دفاع کې وکړې، لوتر ليکي:«د لوقا انجيل ليکونکی هم د مسيح نسب بيانوي او هغه تر آدم پورې رسوي، دا څرګندوي چې مسيح د ابراهيم او داؤد له نسل سره تړاؤ لري، دا ټول د دې لپاره دي چې دا ثابته کړي چې مسيح د هغو ژمنو پوره کوونکی دی چې [يهوه] خدای له اسراييلو سره کړي وې.
دا چې رسولان، انبيا او خپله [د عيسی مور] مريمه، يهودان وو نو ځنګه کېدای شي **چې موږ يهودان لعنتي او مردود وبولو؟** که مسيح خپله د يهودانو له قوم څخه ؤ نو څوک موږ ته دا حق راکوي چې د هغه خپل قوم ته سپکاوی وکړو؟ دا هم بايد ووايو چې د مسيح يهوديتوب د هغه مقام نه ټيټوي، بلکې لا يې لوړوي ځکه چې [يهوه] خدای وغوښتل خپل زوی [؟] د داسې قوم له منځه راوباسي چې لا له پخوا يې قانون، انبياء او ژمنې درلودلې.

---

[1]: https://farsicatholic.com/Pdf/LibraryPDF/119
[2]: https://farsicatholic.com/Pdf/LibraryPDF/119
[3]: په هغه زمانه کې د انجيل ژباړل له مرګ سره لوبې کول ؤ، بيا هم لوتر د (يان هوس) له برخليک څخه خبر ؤ. يان هوس، چې د (بوهميا) يو روحاني کس ؤ، انجيل يې له (لاتينی) ژبې څخه (چکي) ژبې ته ژباړلی ؤ، تر څو خلکو ته ښکاره کړي چې د عيسی مسيح ښوونې د کليسا په واک يا انحصار کې نه دي او هر مؤمن کولای شي د سپېڅلي کتاب انجيل په لوستلو سره د خدای له پيغام څخه خبر شي. خو کليسا هغه د همدې دريځ له امله د (جادوګر) په تور تورن او په ژوندوني يې په اور کې وسوځاوه (۱۴۱۵ز.)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**که څوک د یهودانو سپکاوی کوي، باید پوه شي چې هغوی د مسیح د نسل سپکاوی کوي** څکه چې رسولان، مریمه، یوسف او ټول لومړني مسیحیان یهودان وو. موږ نه شو کولای [یوازې] مسیح ومنو او د هغه خپل قوم رد کړو.» [4]

مارتین لوتر زیاتوي:«له بده مرغه، د مسیح تر راتګ وروسته، **عیسویانو له یهودانو سره داسې چلند کړی دی چې نه د انسانیت له اصولو سره سمون لري او نه د مسیح له ښوونې سره.** هغوی یهودان ځورولي، سپک کړي او له ټولنې یې شړلي دي. دا ډول چلند نه یوازې ناسم دی، بلکې د مسیح د مینې له روح سره په بشپړ مخالفت کې دی.
لومړی دا چې باید مسیحیان له یهودانو سره د انسانانو په څېر چلند وکړي، نه د دښمن او نه د لعنتي موجود په څېر. هغوی زموږ ورونه دي، څکه موږ ټول د یوه خدای مخلوق یو او تر موږ مخکې هغوی ته د [یهوه] خدای کلام ورکړل شوی ؤ.
له بده مرغه، ډېری هغه کسان چې ځانونه مسیحیان بولي، **له یهودانو سره یې د سپیو په څېر چلند کړی دی،** نه د انسانانو په څېر. هغوی یهودان شړلي، د هغوی شتمنی یې اخیستي، کنیسې [عبادتځایونه] یې ورته سوځولي او هغوی یې اړ کړي چې په سپکاوي کې ژوند وکړي.»
یهودان د مسیحیانو د ناوړه چلند له کبله نه دي عیسویان شوي [لوتر وایي] چې که زه یهودی وای د دې پر ځای چې عیسوی شوی وای، خینزیر شوی به وم:«که زه یو یهودی وای او دا ډول چلند مې د هغو خلکو له خوا لیدلی وای چې ځانونه د مسیح لارویان بولي **نو زه به ډېر ژر یو خوک شوی وای، نه دا چې مسیحي شوی وای** څکه څوک د داسې ظالمانه خلکو ایمان منلی شي؟ که موږ ځانونه رښتیني مسیحیان بولو نو زموږ چلند باید د مسیح له ښوونې سره سم وي.
مسیح موږ ته نه دی ښوولي چې خلک په زور، وېرې او سپکاوي سره ایمان ته راوبولو، بلکې هغه موږ ته د مینې، زغم او رحم لاره ښودلې ده.
که عیسویانو له پخوا څخه له یهودانو سره په مینه، انصاف او ورورولۍ سره چلند کړی وای نو شوني وه چې ډېری یهودان به نن زموږ د ایمان ملګري وای خو موږ هغوی د مسیح پر ځای، د ظلم، طمعې او درواغجنو په توګه پېژندلي دي.» [5]

د لوتر دا ډول نیوکې او له یهودانو څخه ملاتړ، دا لامل شو چې د کاتولیکې کلیسا لهخوا نیمه یهودی او ځینو یهودی وباله، په ډاګه یې وویل چې هغه یو بدعتي او ګمراه کس دی او د مسیحیت د ایمان له کړی وتلی دی.[6]

د پروتستانتیزم راڅرګندیدل د یهودانو له پراخ هرکلي سره مخ شول څکه چې پروتستانیان د یهودو د دښمنانو، (مسیحیانو) ترمنځ د اختلاف او دښمنۍ لامل شول او د یهودو په دفاع کې ودریدل. تر هغې چې یهودو اعلان وکړ چې «که څه هم پروتستانیان په رسمي ډول یهودان نه دي خو د هغو مذهبي فرقو له ډلې شمېرل کېږي چې له یهودیت سره تړاو لري.»[7]

د یهودانو پر وړاندې د لوتر دا ډول دریځ پنځه کال دوام وکړ.(۱۵۲۵-۱۵۲۰ز. کال) خو کله چې د مارتین لوتر دعوت او خوږې ژبې پر یهودانو اغېز ونه کړ او عیسویت یې ونه مانه او په غبرګون کې یهودانو اعلان وکړ چې د تورات تفسیر (تلمود) د لوتر د وینا په پرتله ډېر غوره او سم تفسیر وړاندې کوي. هغه وو چې لوتر د یهودانو نه بدلیدونکی دریځ وپېژاند نو د هغوی پر وړاندې یې خپل دریځ بدل کړ او په ۱۵۲۶ ز. کال کې یې پر هغوی سختې نیوکې وکړې او په ۱۵۴۳ز. کال کې یې **(یهودان او د دوی درواغ)** په نوم کتاب ولیکه. (چې په مناسب ځای کې به پرې وغږیږو.)

دا مهال چې (اوبه له ورخه تېرې وې.) په راتلونکو کلونو کې د لوتر ملاتړ له یهودانو څخه، یهودانو ته لویه ګټه ورسوله، داسې چې په میلیونونو عیسویان چې د اسراییلو دښمنان وو، د اسراییلو ملاتړي او پلاویان وګرځول شول.

د لوتر څرګندونې چې د کاتولیکې کلیسا پر خلاف او له یهودو ملاتړ ؤ، د کلونو په اوږدو کې په اروپا کې د (پروتستانت) مذهب د رامنځته کیدو لامل شوې او اروپایي یهودانو یې د ودې او خپراوي په برخه کې پوره ملاتړ وکړ.

---

[4]:Luther, Martin. *Dass Jesus Christus ein geborener Jude sei*. Wittenberg: 1523.
سرچینه: https://archive.org/details/bub_gb_IXY8AAAAcAAJ/page/n25/mode/2up
[5]: هماغه سرچینه.

[6]:https://rasekhoon.net/article/show/754449
[7]:https://rasekhoon.net/article/show/754449


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په غیر و لولئ

د پروتستانيانو له مذهب څخه په اروپا کې څو نور مذهبونه راوتوکيدل چې د ځينو مذهبي ډلو رول ډېر مهم ؤ چې د يهودانو په ملاتړ رامنځ ته شوي او د يهودانو لپاره يې لوی خدمتونه وکړل چې لا تر اوسه يې کلک ملاتړي دي. د ۱۶او۱۷مې پېړيو په اوږدو کې يو هم د پيوريتنيانو (Puritans) يا پاکانو په نوم يو پياوړی مذهب ؤ چې په انګلستان کې د (مسيحي- يهودي) ګروهي په لړلو سره چې بيا وروسته په (صهيونيستي مسيحيت) بدله شوه د پادولو ده او د صهيونيستي مسيحيت د ګروهي لومړنی نښی له همدې ځايه پيل شوي او په راتلونکو لسيزو او پېړيو کې د يو ځواکمن او اغېزلرونکي سياسي حرکت په بڼه، په اروپا، په ځانګړي توګه په امريکا کې له مهم رول او اغېز څخه برخمن شول.[8]

د نوموړي مذهب بستيزه موخه دا وه چې کليسا د کاتوليک مذهب له ځينو مناسکو څخه پاکه او اصلاح کړي.

کله چې (اليزابت) د انګلستان سلطنت ته ورسيده نو ملکې اليزابت د انګلستان پر وګړو په ټوليزه توګه د پروتست مذهب ومانه... او په ۱۵۵۹ز. کال کې يې په ۳۹ مادو کې (د انګلستان د اصولو) په نوم يوه اعلاميه خپره کړه چې په هغې کې د انګلستان د پروتست مذهب د ګروهي لنډيز ليکل شوی ؤ.[9]

په ۱۶۴۰ز. کال کې چې د انګلستان پاچا لومړي چارلز لهخوا پارلمان جوړ شوی ؤ، د [پروتست مذهب] پيوريتن فرقي لوی اکثريت درلود، تر دې چې د دوی د رايو پر بنسټ د کليسان مشر اسقف (ويليام لاد[10]) زندان ته واچاول شو او له پاچا سره يې هم جګړه پيل کړه چې په دې جګړه کې پاچا لومړی چارلز ووژل شو، سر يې ترې غوڅ او پر ځای يې د ياغي پيرويتينيانو مشر (آليور کرامول) واک ترلاسه کړ او تر شلو کلونو پورې د انګلستان واکمن ؤ چې په دې بهير کې دوی خپله ځواکمنه کليسا رامنځ ته کړه... .[11]

د انګلستان د لومړي (چارلز) د پاچاهي پر مهال د حکومت او کليسا د زور زياتي له کبله د ۱۲ کلونو ۱۶۲۸-۱۶۴۰ز. په اوږدو کې د پروتست د پيوريتنيانو مذهبي فرقې شلزره لارويان له انګلستان څخه نوي موندل شوي ځمکې، شمالي امريکا، ماساچوست ته مهاجر شول چې په هغه ځای کې يې د خپلې ځانګړي ګروهي او سليقې سره سمه کليسا جوړه کړه.[12]

کله چې د پروتست مذهب لومړني کډوال د امريکا په ماساچوست کې ځایپرځای شول، هغوی امريکا (نوی اورشليم يا نوی کنعان وبلله او ځانونه يې د لرغونو عبرانيانو سره پرتله کړل، هغه عبرانيان چې د فرعون له ظلم او ستمه (چې دلته موخه د انګلستان پاچا، لومړی چارلز او لومړی جيمز ؤ) له مصر، ياني انګلستان څخه تښتيدلي وو او د يوې نوې ژمنه شوي ځمکي په لټه کې روان شوي وو.[13]

هغه مهال يو تن پروتستاني کشيش، (جان کوتن) د ماساچوست د ښارګوټو د بنسټ ايښودلو پر مهال په خپله وينا کې له امريکا داسي يادونه کوي: خدای، هغه مهال چې موږ يې پيدا کړو او د ژوند روح يې زموږ په وجود کې واچاوه، موږ ته يې هغه ځمکه (امريکا) راکړه چې له موږ سره يې ژمنه کړي وه. اوس چې موږ نوي ځمکي ته راغلي يو، بايد نوی ژوند پيل کړو **او د بني‌اسراييلو د وياړ او سرلوړی لپاره، د دې غوره شوي ملت په توګه، هڅه وکړو.**

پيوريتانيان چې د توکم له مخې يهودان نه وو، بيا هم د اسراييلو عبري ژبه يې شمالي امريکا ته يوړه او د (زبور) کتاب يې د لومړي کتاب په توګه چاپ او په نوي نړی کې يې خپور کړ.

وړاندې يادونه وشوه، لکه څه ډول چې په تورات کې راغلي وو، پيوريتانيانو خپل ځانونه د هغو اسراييلو په څېر بلل لکه څرنګه چې له مصر څخه د کنعان ځمکي ته راغلي وو. **په دې ډول پيوريتانيانو ځانونه يو نوی غوره شوی ملت**

---

[8]:https://jscenter.ir/judaism-and-islam/messianism-and-apocalypse/752/

[9]: جان بي. ناس: تاريخ جامع اديان. فارسي ژباړه: علي اصغر حکمت. ۶۷۹مخ

[10]:ويليام لاډ چې غوښتل يې په انګلستان کې کاتوليک مذهب اسقف ؤ، له پيوريتنيانو فرقې سره په مخالف کې ښکيل شو چې په پای کې د انګلستان د کورنيو جګړو پر مهال په اعدام محکوم شو.

[11]: جان بي. ناس: تاريخ جامع اديان. فارسي ژباړه: علي اصغر حکمت. ۶۸۳مخ

[12] : جان بي. ناس: تاريخ جامع اديان. فارسي ژباړه: علي اصغر حکمت. ۶۸۲مخ

[13]: https://ensani.ir/fa/article/63048


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

**وباله او نوې نړۍ، امریکا یې نوی اسراییل وبلل. پیوریتانیان نوې نړۍ ته له داسې ګروهې سره ننوتل چې ګواکې دوی د خدای غوره شوی ملت دی او پر اوږو یې ځانګړې رسالت ایښودل شوی دی... .**[14]

څېړونکي په دې اند دي چې د امریکا فرهنګ د پیوریتانیانو تر اغېز لاندې راغلی ؤ چې نن سبا په امریکا کې بنسټپالي او (انجیلي پروتستانیان) د پیوریتني دود دوام بلل کېدای شي.

په امریکا کې د پروتستانیانو د مذهب په زړه کې د **(اونجلیکال) یا انجیلي پروتستانیانو** په نوم یوه فرقه ده چې د اسراییلو تر ټولو لوی ملاتړې ډله ده او کټمټ د اسراییلو ګروهې او لیدلورې تعقیبوي، نوموړې ډله د فلسطین د ځمکې په هکله په دې باور دي چې نه یوازې هغه ټولې ځمکې چې دا مهال د اسراییلو د دولت تر واک لاندې دي، بلکې د فلسطین ټولې سیمې د [یهوه] خدای لهخوا، له یهودو سره ژمنه شوې ده چې دا ځمکې دوی ته ورکول شوي دي چې له همدې امله باوري دي پر دغو ټولو سیمو د اسراییلو د واکمنې ملاتړ کول د خدای د ارادې پوره کول دي.[15]

دا وو هغه لنډ مالومات چې په امریکا کې د مسیحي دین، د پروتست مذهب اړونده ډلو د مذهبي ګروهې پر بنسټ له اسرییلو څخه په کلکه ملاتړ او لابيګري کوي چې دا له اسراییلو څخه د امریکایانو د ملاتړ یو مهم اړخ دی. چې په نورو اړخونو به په راتلونکي لیکنو کې رڼا واچول شي.

نېټه:۱۴/۱۰/۱۴۰۴ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولی.

---

[14]:هماغه سرچینه.

[15]: https://doxpodcast.com/episodes/ep49-evanglists/



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ